# ادب! واسطه که غایه؟

په تېره ګڼه کي مي پر ادب او علم باندي يو مضمون ليکلی و، ځکه چي خيني خبري هلته پاته وې نو اوس غواړم چي يو څو کرښي پر هغو زياتي او شاوخوا يې لږ څه روښانه کړم.

هلته ما ليکلي وو چي ادب د علم په مقابل کي آله او واسطه ده نه غايه ! يعني د علم لپاره موږ ادب ته اړ يو او بالذات پخپله د يوه ملت د لوړتيا لپاره کافي نه دئ.

زه پخپله د شخصي عقيدې په اتکاء تر ډېره ځايه د دې خبري مل يم، او ښايي چي خيني نور خلک هم ملګري ولرم، خو دا هم وايم، چي خيني خلک به مخالف هم وي، او نه به غواړي چي ادب تش د آلې او واسطې په توګه وپېژني.

په اجتماعي ژوندانه کي ډېر شيان سته، چي د ثقافت په تشکيل کي برخه لري، خو په لومړي کتنه کي دوني مهم او د غور وړ نه ښکارېږي، اما کله چي يو ملت د لوړتيا په يون او د تکامل په سير کي هغه پوړ ته ورسيږي، چي بايد هغه شی ولري نو هلته ټولو ته د کوم عنصر اهميت ځرګندېږي، او لزوم يې نظر ته ورځي، او د ټولو مخه هغې خواته کيږي.

ښايي چي ادب هم دغسي د ثقافت د بشپړولو او تکميل لپاره خپل موقع او مساعد فرصت په اجتماعي ژوندانه کي غواړي، او دا هم ښايي چي کوم وخت ادب د يوه ملت لپاره دوني اهميت



ومومي، چي له واسطي والي څخه د غايې او اصلي مقصد مقام ته هم ورسيږي، مګر دا په محيطو او اولسو او عصرو پوري اړه لري.

بله خبره دا هم ده، چي ادب يو جامع عنوان دئ، چي ځانګي او شعبې او اړخونه لري که له يوه اړخ څخه ورته وکتل سي ښېله دې چي تشه واسطه يې وګڼو بله معنی نه لري، اما که ډېر دقيق سو، او د ادب په ځانګو کي خيني نهايي او وروستنۍ خواوي وپلټو دلته به نو دا هم راته وځليږي چي ادب يوازي او تشه واسطه نه ده، بلکي کله کله غايه هم کېدای سي.

موږ چي څه ليکو، يا په يو څه شي کي غور کوو او څېړو يې، دا زموږ ليکنه، څېړنه، کتنه په مخصوص ډول وي، او غالباً مو عينکه هم اوسنۍ عينکه وي، حقايق من حيث حقيقت نه پلټو، بلکي د خپل احتياج او اجتماعي اوضاعو له لامله يې څېړو.

ډېر حقايق به پر نړۍ وي، چي هغه دلته او په دې چاپېر کي نوی رنګ ومومي، او ځان محيطي کوي، نو ادب هم تر دغه قانون لاندي دئ، او موږ چي څه پکښي وايو يا يو څه پر ليکو، د خپلو محيطي عينکو څخه به يې وينو.

ما و ويل : چي ادب واسطه ده نه غايه ! دا دعوه مي هم محيطي ده، ممکنه ده چي حقيقت به بل وي، او زما تر ليدني قوي او حقيقي ليدني او کتني نوري هم وي خو زه له خپله چاپېره درته ګډ يم، او څه چي وايم هغه له خپله ځانه درته وايم. هو ! هر چاپېر او هره جامعه "ځان" لري، چي لکه د يوه سړي د ځان لپاره چي ډېر لوازم سته، دغسي هم د جامعې د "ځان" لپاره، د هر عصر لوازم او اړتياوي بېلي دي.

د يوه ابتدايي ملت لپاره ادب ځکه واسطه ده، چي هر لومړنی اولس د اجتماعي تعامل او تفاهم او هم د علم د زده کړي لپاره يوې "ژبې" ته اړ وي، او هم دغه ادب يې پالي، نو که موږ علم او

اجتماعي ارتقا هدف او مقصد وبولو، ښايي چي پر ادب د واسطې حکم وکړو. مثلاً زه غواړم چي د طبيعياتو يو کتاب وليکم، دا کتاب تر هغو نه سم ليکلای څو زه داسي ژبه ونه لرم، چي ټول مطالب ښه پکښي ځای سي، او هم په داسي ډول څرګند سي، چي نور يې له ويلو استفاده ومومي، او د هغه علم په مقصد پوه سي.

دغه ژبه ماته ادب راښئي، او ادب کولای سي چي په يوه ژبه کي دوني استعداد مينده کړي چي مثلاً رياضي يا کيميا په وليکم.

نو هر کله چي زه د ژبي پالنه کوم، پر ادبي قواعدو يې برابروم، د واضح او فصيح بيان پانګه پکښي پيدا کوم، دا ټوله د "پوهولو" لپاره دي، نو ځکه په ابتداء کي "ادب" تشه "واسطه" ګڼم.

اما ښايي چي زموږ د ملت په عمر کي داسي ورځي هم راسي چي ادب به تشه واسطه نه وي، او موږ به يې پخپله هم غايه ګڼو.

ښه اوس چي خبره داسي سوه، نو !

ادب کله غايه کيږي ؟

دا خبره ډېره نرۍ او هم مشکله ده، ښايي چي ماته يې څېړنه او سپړنه هم ګرانه وي، خو بيا هم د قلم په ماته خوکه چي څه د زړه خبري راتلای سي زه به يې وليکم :

که په لنډ ډول و وايم نو ښايي څه زما مقصد په دغو الفاظو کي ځای سي : "ادب چي د صنعتي او ميکانيکي دورې څخه تېر سي او په خپل جوهري کيف له ډېرو اعراضو څخه مجرد سي، هلته نو غايه ورته ويلای سو."

دا خبره هم لنډه ده، او څېړني ته اړه، زه ناچاره يم چي لږ څه شرح ورکم :

دمخه مي و ويل : چي ادب د واسطي والي په دورو کي د حسن بيان او فصيحي وينا لپاره استعماليږي، او ادبي علوم ټول واسطه وي، ښې او بليغي وينا ته !



ادب په لومړۍ او دوهمه دوره کي د ايضاح، حسن تفاهم، بليغ کلام، تاثير، تهيج، ښورونې، پاڅوني او وېښوني لپاره "آله" وي !

که يو خطيب وغواړي، چي خلک په خپله وينا ويښ کړي، او ويې پاڅوي، نو دی په خطبه کي ادبي سحر ګډوي، او د خلکو پر روح اثر اچوي.

که يو ليکوال وغواړي چي په خپل ليک سره جامعه د ارتقاء خواته بوزي نو دی، د خپل ليک عميق او ژور اثرونه له ادبي اصولو څخه اقتباسوي، او د ادب په پيرايه خپل کلام ته اثر او اغيزه او ښکلا ورکوي.

په دغو ټولو دورو کي ادب خپل "آليت" او واسطه والی ساتي، او کورټ "غايه" نه وي.

مګر ادب چي هر څوني لوړېږي له آليت څخه تجرد مومي، او له عرضي کيفه جوهري ډول ته رسيږي !

دا لوړه درجه چي ادب غايه والي ته رسوي او له واسطه والي څخه يې پاکوي هغه وخت دئ، چي يو اديب د تصنع او ميکانيکيت له نړۍ څخه ووزي، او بالذات "ادب" ته مخه کړي، او د سوچه تخيل او د فطرت په نغوته او د وجدان په جذبه او ښوونه يو څه ميدان ته راوباسي. د مثال په ډول وايم : چي په پښتو ادب کي د خوشحال، حميد او نورو ټولو ادباوو آثار "آلي ادب" او واسطي دي، دوی د ادبي ميکانيزم او صنايعو څخه کار اخلي او "ادب" يې بالذات من حيث هو هدف نه دئ.

اما د "رحمان بابا" ادب بالذات غايه ده، او مقصودي ادب دئ، ځکه چي دلته هيڅ ميکانيکي تصنع او عرضي کيف نه وينو.

دغسي هم که له دغي خوا پاړسو ادب ته وګورو د "حافظ" شعر غايوي ګڼلای سو او د خاقاني او بيدل اشعار تش ميکانيکي او وچ د لرګو څخه توږل سوي اشکال دي.

په بل عبارت باید و وایم : چې د "غايوي ادب" تل له وجدان او زړه څخه لهام اخلي، او د روح له نريو مراندو سره اړه لري، د زړه له چینې څخه لکه رڼې اوبه داسې رابهیږي، او د فطرت خوند او رنګ یې تل ساتلی وي، مجاري یې هم طبيعي او فطري وي، له روحه سره کلکه علاقه لري، د ادیب زړه یې په کلماتو کې نغښتی وي.

اما "آلي ادب" له مادي حظونو څخه تراوش کوي، د نرۍ میکانیکي رنګونه پکښې ښکاري. يعنی دلته له سترګو څخه کار اخیستل کیږي او هلته د زړه له بصیرته!

دلته له غوږو او ظاهري حواسو څخه کار اخلي، هلته له باطني او وجداني او فطري استعدادو څخه ! دا په "ماده" او مادي مظاهرو اړه لري، هغه په روح او فطري خصوصیاتو !

یو بل مثال د اوسني ادب له پلوه هم درته وایم : په اوسنۍ ایشیا کې موږ دوه تنه معروف ادباء پیژنو، چې دواړه د هند دي، یو مرحوم علامه اقبال ـ بل ـ رابندرنات ټاګور. که د دوی ادب ته له دغي خوا څیر سو،او فکر پکښې و وهو، نو ښايي چې پخپله دا راته ښکاره سي چې د لمړی د آلي ادب، او دوهم دا غایوي دئ.

د مقالې په پای کې باید دا خبره هم پټه نه سي چې د ادب لومړنی او وسطی او عالي درجې چې ما دلته و ویلې، دا دغسي مرتب تعابیر نه دي، چې باید ضرور هر ادیب دغه درې مراتب یې کړي.

بلکي دا چې یوه ادیب ته زموږ د نهایي درجې حق ورکوو ښايي چې دی فطرت په دغه درجه کې اچولئ وي، او لمړنی او وسطی درجې یې نه وي لیدلي. دغسي هم د یوه ملت په عمر کې ښايي چې یو نهایي ادیب لمړی پیدا سي، او یو بدوي ادیب وروسته وزیږي. د غایوي ادب پیدا کېدل او داسي ادیب زېږول د



فطرت کار دئ. داسي اديب د فطرت په غېږ کې پالل کیږي او د فطرت له استعدادو څخه برخي مومي ښايي چې مکتب او مدرسه داسي څوک ونه روزلای سي.

علم او فلسفه او لوستل او ویل هم د داسي ادیب لپاره ضرور نه وي، ښايي چې پخپل غایر نظر د فطرت ډېر اسرار کشف کړي اما دی به فیلسوف نه وي، ښايي چې تر ډېرو له مدرسو راوتلو علماؤ دوی پوه وي، او د خپل وجدان او ضمیر په رڼا ډېري تیارې رڼې کړي، دوی د حافظ په قول لوست يې نه وي کړئ، له مکتبه نه وي راوتلي خو د :

"بغمزه مسئله آموز صد مدرس شد" مصداق وي او د دوی لهام د فطرت له پلني لمنې څخه وي. (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۳ ل کال، ۴ مه ګڼه، ۱ ـ ۳ مخونه.